# ټوپک سالار

زه وتلی له وطنه ژوند می هم هغسی خوار دی
بی وطن اوبی هویته ټول صورت می په انګاردی
دلته سیال می نه ګڼی څوک په نفرت ټول راته ګوری
هلته پښه می نه لګیږی غلیمان کړلی خار دی
دلته عزت د سر مایه دی بی وقار ژوند د بی وزلو
هلته جهل اوتورتم دی نا پوهان په اقتدار دی
دلته مینه په پیسو دی عا شقی هیڅ په کار نه دی
هلته پیغلی غلا کیږی غله ټول ټوپک سا لار دی
دلته مونږه افغانانو یو د بل څنی پټیږو
هلته ځان افغان نه بولی څنی څنی سخت بیمار دی
دلته زمونږه پو هانو تنګد ستی نه په فریاد دی
هلته ټولو پا ټکیانو ډیر مشهور سرمایه دار دی
دلته پیغلی لو څ بربنډ تل مسکا لری په شونډو
هلته پیغلی ځان سوځی خشونت دمرد سالار دی
دلته اوهلته می په ژوند کی هیڅ ونه لیدل خوشی
د ( مل) زړه په دی غربت کی شپه اوورځ ډیر ناقرار دی

کریفلد جرمنی دمارچ دیارلسم

۲۰۰۷

www.ayenda.org